له مرګ روسته به څه کیږي

# د قبر حالات



مؤلف

مولوی عاشق الٰهی بلندشهری

ژباړه

سمیع الله "حقانی"

له مرګ وروسته به څه کیږي

لومړي برخه

# د قبر حالات

راروانې برخې:

() د حشر میدان

() د جنهم حالات

() د جنت حالات

تالیف:

مفتی محمد عاشق الهی بلندشهري

ژباړن:

مولوي سمیع الله (حقاني)

بریښنايي کوونکی:

عزت الله سلطانزي

0093706912702

BAWAR LIBRARY

باور کتابتون

FB:Ezatullah.sultanzai

## د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د قبر حالات |
| لیکوال | مفتی محمد عاشق الهی بلندشهري |
| ژباړه | مولوي سميع الله ( حقاني ) |
| کمپوز | هدایت ( وردک ) |
| پرلیکه کوونکی | عزت الله سلطانزی 0093706912702 |
| چاپ کال | ۱۳۹۴ ل |
| چاپ شمیر | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ وار | دویم |
| خپرندوي | روغنیوال خپرندویه ټولنه |

دا کتاب دباور کتابتون څخه ښکته شوی

https://Bawar.Net

دنور کتابونو لپاره د باور کتابتون له ویبپاڼې څخه لیدنه وکړۍ

FB:Ezatullah.sultanzai

# د موضوعاتو لړلیک


د پورتني بحث خلاصه ........ ۴
د مرګ په وخت او د مرګ نه پس د مومن اعزاز ........ ۵
د مرګ په وخت د کافر ذلت ........ ۸
په قبر کې د مومن ژوند ........ ۱۱
په قبر کې د مومن بې ویرې کېدل او دده په وړاندې جنت پیش کېدل ........ ۱۲
مومن ته د فرښتو ویل چې د ناوې په شان ویده شه او منافق او کافر ته د
ځمکې زور ورکول ........ ۱۳
د برزخ مخلوق د مومن نه د حال پوښتنه کوي ........ ۱۵
برزخ والاو ته د ژوند اعمال ښودل کېږي ........ ۱۶
مومن ته د قبر زور ورکول داسې دي لکه مور یې چې خپل ماشوم ته په غېږ
کې ورکوي ........ ۱۶
د اسمان او ځمکې د مومن سره محبت کول او دهغه په مرګ باندې ژړل ........ ۱۷
صدقه جاریه او د اولاد وغیره نه د استغفار کټه ........ ۱۸
مومن ته دملک الموت سلام ........ ۱۹
د مومن په دنیا کې د اوسېدلو نه انکار کول او په هغه باندې زیری کول ........ ۱۹
د شهیدانو سره د الله جل جلاله خطاب ........ ۲۰
د شهادت تکلیف د میږي د چیچلو په اندازه باندې وي ........ ۲۲
د قبر د عذاب تفصلي بیان ........ ۲۲
په قبر کې عذاب ورکوونکي ماران ........ ۲۴
په قبر کې د عذاب د وجهې نه دمړي چغې وهل او د اوسپنې په ګرزونو
باندې د هغه وهل کېدل ........ ۲۴
چغلي کولو او متیازو نه ځان نه ساتلو له امله د قبر عذاب ........ ۲۵
په ځینو مخصوصو کارونو مخصوص عذابونه ........ ۲۶
د مړي سره د ځمکې خبرې کول ........ ۲۹

د قبر د عذاب نه ساتل شوي کسان ........ ۳۰
د سورة ملک او الم سجده لوستلو والا کس ........ ۳۱
د خیټې په مرض کې مړ کېدونکی ........ ۳۲
د جمعې په شپه یا ورځ مړ کېدونکی ........ ۳۳
په رمضان کې مړ کېدونکی شخص ........ ۳۳
محافظ. مرابط. او شهید ........ ۳۳
یو کس خمکې قبول نکړو ........ ۳۵
په برزخ کې سحر او مابنام د جنت یا دوزخ پیش کېدل ........ ۳۶
انبیاء علیهم السلام د وفات کېدلو نه پس په عالم برزخ کې په قطعي ډول ژوندي دي ........ ۳۷
د صحابه کرامو رضی الله عنهم په پاکه روضه باندې سلام کول ........ ۴۰
د نورو کسانو په واسطه باندې سلام لېږل ........ ۴۱
د احد د شهیدانو بدنونه ډېر کلونه پس هم جوړ او روغ و ........ ۴۲
فکر او اعتبار ........ ۴۳

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على خير خلقه سيدنا محمد سيد المرسلين وعلى اله وصحبه هداة الدين المتين ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ويناو څخه په ښکاره ډول معلوميږي چې وايي مړه کيدونکي کس ته که څه هم مونږ مړ وايو لکن په حقيقت کې هغه ژوندی دی، که څه هم د هغوی ژوند زمونږ د ژوند نه مختلف دی. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي د مړي هډوکي ماتول دا سې دي لکه په ژوند يې چې هډوکي مات کړي، (مشکوة / ۱۴۹ صفحه).

رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه ورځ عمرو بن حزم رضى الله عنه يوه قبرته ډډه وهونکی وليدو ورته ويې فرمايل قبر والاته تکليف مه ورکوه (مشکوة ۱۴۹ صفحه).

انسان چې کله مړ شي نو دی د دې عالم نه لاړشي او عالم برزخ ته ورسيږي، که څه هم په قبر کې نوي اينبودل شوی، يا په اور کې ونه سوخول شي، په ده کې پوهه او شعور وي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا ده : کله چې مړی په کټ کې کېښودل شي. او مقبرې يا هديرې ته د وړلو لپاره يې خلک پورته کړي، که چرته دا مړی نيک شخص وو، نو دی وايي. زر کوی زر مې يوسی. او که بد عمله شخص وو، نو هغه خپل کور والاو ته وايي ای هی زما بربادی. ما چرته وړی، او بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل د انسان نه غير هر شی د هغې اواز اوري.

او که چرته انسان د هغه اواز وواري بې هوشه به شي (مشکوة / ۱۴۴ / صفحه).

د مرګ نه وروسته تر قیامته پورې چې په هر کس کومه زمانه تېرېږي هغه ته برزخ ویل کېږي، د برزخ لغوي معنی پرده او دیوال ده لکه چې دا زما او د دنیا تر مابین دیوال دی له همدې وجهې ورته برزخ ویل کېږي.

د حضرت ابو سعید الخدري رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم کس چې قرانکریم ویل شروع کړي، او د پوره کولو نه مخکې مړشي ، نو په قبر کې به یې یوه فرښته ورته ښایي او دی به په داسې حال کې د الله جل جلاله سره ملاقات کوي چې د قران پوره حافظ به وي ( شرح الصدور / ۸۴ صفحه).

کوم خلک چې په نیکو اعمالو کې خپل ژوند مصرف کوي، او د مرګ نه وروسته ژوند باندې یقین لري، او په دې دنیا کې یې زړه نه لګي، هغوی مرګ ته د دنیا په ژوند ترجیح ورکوي، او کوم خلک چې د دنیا ژوند په بدو کې تیر کړي، هغوی د مرګ نه ویرېږي او مرګ نه خوښوي.

سلیمان بن عبد الملک د ابو حازم رحمة الله علیه نه پوښتنه وکړه، چې مونږ د مرګ نه ولې ویرېږو، هغه وفرمایل: تا دنیا اباده کړې او اخرت دې برباد کړی دی، له همدې امله د ابادی نه ویجاړ او کنډلې ته تلل نه خوښوې، سلیمان وویل : چې واقعا

تاسې رېښتيا وايی همدا سې ده «صفة الصفوة / ۲ج / ۱۸۹ صفحه».

کوم سړي ته چې د قبر د ژوند يقين وي، او د خپلو نيکو عملونو په بدله کې يې هلته په ښه حال کې د اوسېدو اميد وي، او دا سې يقين لري چې د دنيا نه به په داسې حال کې ځم چې خپلوان به مې پرېښې وي، او په برزخ کې به د خپلوانو سره په خوشحالی سره يو ځای کېږيم نو بيا به د مرګ نه ولې وېرېږي بلکې هغه به هيڅ کله نه وېرېږي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

يُحِبُّ الانسانُ الحيواةَ وَالموتُ خيرٌ لنفسه «شرح الصدور / ۶ صفحه»

ژباړه: انسان ژوند ښه بولې په داسې حال کې چې د ده لپاره مرګ بهتر دی.

په بعضې روايتونو کې دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مرګ د انسان لپاره تحفة بللی دی، او دا يې هم فرمايلي : چې انسان مرګ بد ګڼي خو مرګ ورته په فتنو کې د غورځېدلو نه بهتر ه دی، چې څومره زر ورباندې مرګ راشي هغومره زربه د دنيا د فتنو نه محفوظ پاتې شي «شرح الصدور / ۶ صفحه».

حضرت انس رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د انسان د مرګ مثال دا سې دی، لکه د مور د ګېډې نه چې ماشوم راوځي د دنيا ارام او راحت ته.

## د پورتني بحث خلاصه

د مؤمن لپاره مرګ ډیر ښکلی شی دی، په دې شرط چې نیک عمل کوونکی وي. او د الله جل جلاله او د ده په مابین کې چې کومه معامله ده هغه یې ښه ساتلې وي

حضرت ابو هریرة رضی الله عنه یوه ورځ د یو کس نه پوښتنه وکړه چې چرته ځي. هغه کس ورته وفرمایل: د بازار اراده لرم، او بیا یې ورته وفرمایل: که کولی شي زما لپاره مرګ واخله او را یې وړه، مطلب دا چې زما په دې ژوند کې او سېدل خوښ ندي، که په قیمت سره هم مرګ پیدا کېږي نو رایې وړه.

حضرت خالد بن معدان رضی الله عنه فرمایي: که یو کس ووایي چې یو څوک که هغه شي ته لمړی لاس یوسي نو مړ کېږي نو له ما نه به بل څوک نوي چې هغه شي ته لمړی لاس یوسي، بلکې که چیرته له مانه په منډه کې تیز وي، هغه نو بیا بله خبره ده.

الهم حبب الموت الی والی من یعلم ان سیدنا محمدا صلی الله تعالی علیه وسلم عبدک ورسولک.

## د مرګ په وخت او د مرګ نه پس د مومن اعزاز

حضرت براء بن عازب رضی الله عنه راویت کوي یوه ورځ مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوه انصاري په جنازه کې مقبرې ته لاړو، کله چې قبر ته ورسېدو ومو لیدل چې لحد نه وو جوړ شوی، له همدې وجې رسول الله صلی الله علیه وسلم کېناستو او مونږ هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شا او خوا کې کېناستو، په دا سې شان لکه چې زمونږ په سرونو باندې مرغان ناست وي (په ډیر ادب سره).

د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک په لاس کې یو ډکی (خلی) و، او په هغه باندې یې ځمکه ګروله (لکه چې یو غمجن کس یې کوي) هغوی سر مبارک او چت کړو او ویې فرمایل: د قبر د عذاب نه پنا وغواړی، دوه دری ځلې یې همداسې وفرمایل: ببشکه کله چې مؤمن بنده د دنیا نه د تللو او د اخرت په طرف د مخ کولو والا شي، نو د هغه طرف ته د اسمان نه فرښتې راځي، چې د هغوی مخونه د لمر په شان روښانه وي، د هغوی سره جنتي کفن او خوشبویي وي، دا فرښتې دو مره زیاتې وي چې تر کومه ځایه پورې د ده نظر لګي تر هغه ځایه پورې ناستې وي، بیا ملک الموت علیه سلام راشي تر دې چې د ده سره ډیره نږدې کیني، او وفرمایي: ای پاک روحه د الله جل جلاله بخښنې او د هغه د رضامندی طرف ته را ووځه، نو د هغه کس روح په دا سې اسانی سره راوځي، لکه د مشکیزې نه چې د ابو قطره رابهیږي، او بیا یې ملک الموت له ځان سره اخلي، بیا هغه نوري فرښتې چې

لرې ناستې دي، د سترګو د رپ په اندازه د ملک الموت په لاس کې نه پرېږدي، ترې اخلي يې او په هغه کفن او خوشبو يې کې يې ايږدي بيا اسمان طرف ته ځي، د يادې خوشبويي په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په ځمکه کې چې کومه د ښونه ښه خوشبويي د مشک موندل کېږي، د هغه په شان خوشبويي ده.

بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د روح په اخستلو سره فرښتې د اسمان طرف ته خېژي، او د فرښتو په هره ډله چې دوی تېرېږي نو هغوی وايي، دا کوم پاکېزه روح دی؟ هغوی د ده په ښايسته نوم اخستلو سره ځواب ورکوي، چې په هغه نامه سره په دنيا کې رابللی شو، چې دا روح د فلاني د فلاني د زوی دی، همدا شان لمړني اسمان ته رسيږي، او د اسمان دروازه خلاصوي، تر دې چې اوم اسمان ته ورسېږي، د هر اسمان مقربين يې تر بل اسمان پورې رخصت کوي، کله چې اووم اسمان ته ورسي، الله جل جلاله فرمايي: زما بنده په کتاب علين کې وليکی، او دی ځمکې ته بېرته بوځی ځکه چې ما انسان د ځمکې نه پيدا کړی دی، او همدې ځمکې ته به دی بېرته لېږم او همدې ځمکې نه به دی بېرته را وباسم، نو د هغه کس روح به د هغه بدن ته بېرته ورشي، له دې وروسته دوه فرښتې ده ته راځي، او دی به کېنوي،

د ده نه به پوښتنه کوي چې ستا رب څوک دی؟

هغه به ځواب ورکوي؛ زما رب الله جل جلاله دی.

بيا د ده نه پوښتنه کوي چې ستا دين څه دی؟

هغه به ځواب ورکوي؛ زما دين اسلام دی.

بیا به د ده نه پوښتنه کوي چې دا صاحب څوک دی کوم چې ستا قبر ته د ننه کړی شوی دی؟

هغه به څواب ورکوي: دا د الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم دی. بیا به د ده نه پوښتنه کېږي چې ستا عمل څه دی ؟ هغه به وايي ما د الله جل جلاله کتاب ولوستلو او په هغه مې ایمان راوړ او د هغه تصدیق مې وکړ دا زما عمل دی.

له دې وروسته به یو اواز کوونکی د اسمان نه اواز وکړي، چې زما بنده رښتیا ویلي دي، او د ده لپاره د جنت بستره خوره کړئ. او ده ته د جنت جامې ور واغوندی، او د ده لپاره د جنت طرف ته دروازه خلاصه کړئ. او د جنت طرف ته به دروازه خلاصه شي، او د دروازې په ذریعه سره به ده ته د جنت خوشبويي راځي. او قبر به یې دومره لوی شي تر کومه چې د ده نظر لګي. له دې وروسته ډیر ښایسته مخ والا سړی، او بهترینو جامو والا سړی، پاکیزه خوشبو والا سړی ده ته راځي. او ده ته وايي: د خوشحالی زېری وواره دا هغه ورځ ده چې ستا سره یې وعده شوې وه، د قبر څښتن (مړی) به ورته ووايي: ته څوک یې؟ هغه به ورته ووايي زه ستا صالح عمل یم . د دې نه پس هغه په خوشحالی کې وايي. ای ربه قیامت راولې. ای ربه قیامت راولې. ای ربه قیامت راولې چې زه خپل اهل. عیال. مال ته ورسم

## د مرګ په وخت د کافر ذلت

بې له شکه کافر بنده چې کله د دنیانه اخرت ته ځي نو تور مخونو ولا فرښتې د اسمان نه ده ته راشي، او د هغوی سره ټاټ (ربړ) وي او د ده سره به تر دومره لرې اندازې پورې کښني چې د ده نظر ورباندې لګي، بیا به ملک الموت د ده خواته راشي او د ده سره به نږدې کښني، بیا به ووايي: ای خبیثه روحه د الله جل جلاله د نا راضی لپاره راووځه د ملک الموت د دې خبرې په اورېدو سره به روح د ده په بدن کې یوې او بلې خواته منډې وهي، خو ملک الموت به روح د ده له بدن نه په داسې شان راوباسي لکه د تیږو په سیخ باندې چې لمدې وړی پاکې شي (د کافر روح په زور سره راوباسي) لکه لمده وړی، چې د ازغي دار سیخ نه تاوو شوې وي. او هغه په زور سره را کش کولی شي، بیا د ده روح ملک الموت په خپلو لاسونو کې واخلي، او نورې فرښتې یې د ده په لاس کې د سترګو په رپ کې هم د ده سره نه پرېږدي بلکې تر اخلي یې او په هغه راوړو ټاټونو کې یې تا وویې، کوم چې هغوی له ځان سره راوړي. او دا سې بدبوی تر راخي لکه د سخا (خوسا) شوي کس نه چې په ځمکه کې بوی ځي. او فرښتې د اسمان په طرف ځي او په کومه ډله د فرښتو چې دوی تېرېږي هغوی ورته وايي دا کوم خبیث روح دی

هغوی په ډېر بېکاره نوم سره دی یاد کړي په کوم چې په دنیآ کې یادېدو چې دی فلانی د فلاني زوی تردې چې لمړي اسمان ته

ورسي. او دروازه خلاصول غواړي مګر د ده لپاره دروازه نه خلا سېږي، لکه چې الله جل جلاله فرمايلي

(إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ ۝) (اعراف / ۴۰ ايت).

ژباړه باور ولرئ چا چې زمونږ ايتونه دروغ ګڼلي دي او د هغو په مقابل کښې يې سرغړولی دی د هغو له پاره به د اسمان دروازې هېڅکله پرانه نستل شي. جنت ته د هغو تګ دومره نا ممکن دی لکه د ستنې له سيم څخه د اوښ تېرېدل. مونږ مجرمان په همداسې مجازات محکوموو.

بيا الله جل جلاله فرمايي: دا په کتاب السجين کې وليکی، چې هغه د ټولو نه په لاندې ځمکه کې دی، او د هغه روح د همغه ځای نه لاندې را وغورځول شي، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ايت تلاوت وفرمايلو:

(حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ۝) (سورة حج ۳۱).

ژباړه يوې خواته په مخ اړولو د الله مخلص بندګان شئ، له هغه سره څوك مه شريکوئ او څوك چې له الله سره شريك ونيسي نوداسې وګڼه چې هغه له اسمانه راوغورځېده، اوس به يا هغه الوتونکی په الوزولو وتښتوي يابه يې باد داسې ژور ځای ته يو سي وبه يې غورځوي چې هلته هغه ټکوري ټکوري لاړ شي.

له دې وروسته هغه روح بدن ته بېرته دا خله شي او هغه ته دوې فرښتې راشي، او هغه کښنوي او پوښتنه ترې کوي، ستا رب څوک دی؟ هغه وايي های های ماته معلومات نشته.
بيا د هغه نه پوښتنه کوي : ستا دين کوم دی؟.
دی وايي های های ماته معلومات نشته.
بيا د هغه نه پوښتنه کېږي چې دا کس څوک دی چې قبرته دا خل کړی شوی دی ؟.
دی وايي: های های ماته معلومات نشته.
له دې وروسته د اسمان نه يو اواز کوونکی اواز وکړي، چې دی دروغ وايي د ده نه لاندې اور خور کړئ او د ده لپاره د دوزخ دروازه خلاصه کړئ. نو د دوزخ دروازه به خلاصه شي، او د دوزخ تاو او سخته ګرمي به ورباندې راځي قبر به ورباندې دومره تنګ شي، تر دې چې د ده پوښتی به يو په بل کې ننوځي، او ده ته به يو کس راځي چې ډېر بد شکله او خرابې جامې به يې اغوستې وي، او د بدن نه به يې بد بوی راځي، هغه کس به ده ته وايي د مصيبت خبره وواره ، دا هغه ورځ ده چې له تاسره يې وعده شوې وه،مړی به ورته ووايي چې ته څوک يې ؟.
هغه به ورته ووايي چې زه ستا بد عمل يم په دې اوريدلو سره به هغه د ډېنه چې زه به په قيامت کې له دې په سخت عذاب کې اخته کېږم داسې به وايي، ای ربه قيامت مه راولې (مشکوة المصابيح ۱۴۳/ ۱۴۴ صفحې)

په يوه روايت کې دي چې کله د مومن روح وخي نو د اسمان او ځمکې په مينځ کې هره فرښته او هغه ټولې فرښتې چې په اسمان کې دي، ټولې په ده رحمت لېږي، او د ده لپاره د اسمان دروازې خلاصېږي، او د هرې دروازې والا فرښتې د الله جل جلاله نه دعا غواړي چې د ده روح زمونږ د طرف نه راپورته کړي، او د کافر په باره کې يې فرمايلي چې د هغه روح د رګونو سره رايستل کېږي، او د اسمان او ځمکې په منځ کې هره فرښته او هغه ټولې فرښتې چې په اسمان کې دي، ټولې په ده لعنت لېږي، او د هغه د پاره د اسمان ټولې دروازې بندې کړی شي، او د هرې دروازې فرښتې د الله جل جلاله نه دعا غواړي چې د ده روح زمونږ د طرف نه را پورته نه کړي (مشکوة ١٤٣ صفحه).

## په قبر کې د مومن ژوند

حضرت جابر رضی الله عنه فرمايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل کله چې مومن په قبر کې کېښودل شي، نو ده ته دا سې معلومېږي چې لمر پټيږي او کله چې د ده روح ده ته بېرته ورکړل شي، نو دی سترګې موښي (موږي) او کېني او فرښتو ته وايي ما پرېږدی چې زه مونځ وکړم (مشکوة ٦٦ / صفحه).

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي دی دغه وخت خپل ځان په دنيا کې تصور کوي، وايي سوال او خواب پرېږدی ما فرض ادا کولو ته پرېږدی، وخت ختمېږي، زما مونځ به لاړ شي، بيا ليکي دا خبره به صرف هغه کس وايي کوم چې په د نيا کې د مونځ پابندي

کوي، له دې بې لمانځه کسانو ته سبق حاصلول پکار دي، او ښه فکر دې وکړي چې سوال او ځواب شته.

## په قبر کې د مومن بې ویرې کېدل او دده په وړاندې جنت پیش کېدل

حضرت ابو هریرة رضی الله عنه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بې له شکه مومن خپل قبر ته له رسیدو سره بې ویرې وي، او په ارام سره کېني بیا چې له ده نه پوښتنه و شي، چې ته په دنیا کې په کوم دین وې، هغه ځواب ورکوي چې زه په اسلام کې وم، بیا د ده نه پوښتنه کېږي چې ستا په عقیده کې دا شخص څوک دی، چې ستا طرف ته در لېږل شوی وو، هغه ځواب ورکوي چې دا رسول الله صلی الله علیه وسلم دی، ده موږ ته د الله جل جلاله له طرفه ښکاره معجزې راوړې وې، او موږ د ده تصدیق وکړو بیا د ده نه پوښتنه کېږي چې تا الله جل جلاله لیدلی دی؟

هغه به ځواب ورکوي چې په دنیا کې یو انسان هم الله جل جلاله نشي لیدلی نو ما به څنګه لیدلی وي.

بیا به دده ته د دوزخ طرف ته یوه کړکۍ خلاصه شي، چې د هغه په ذریعه به هغه دوزخ ویني، چې سکروټې یې په خپلو کې یو او بل خوري، کله چې هغوی د دوزخ منظر ویني، نو هغه ته ووایي چې وګوره الله جل جلاله څنګه د مصیبت او عذاب نه وساتلې؟.

بیا به د هغه نه وړاندې جنت طرف ته یوه کړکۍ خلاصه شي، او ده ته به جنت وښودل شي، بیا به ده ته وویل شي چې دا ستا د او

سپډو ځای دی، ته په یقین باندې ژوندی او سپډې او په یقین باندې د قیامت په ورځ د قبر نه پورته کېږي انشا الله تعالی.
بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نافرمانه بنده په ویرې سره په قبر کې کېښي، او د ده نه به پوښتنه کېږي چې ته په دنیا کې په کوم دین وې؟.
دی به ځواب ورکوي، ماته معلومات نشته، بیا به د ده نه د رسول الله په اړه پوښتنه کېږي؛ دی به وایي څه چې نور خلک وایي زه هم همغه شان وایم، بیا به د ده مخامخ د جنت طرف ته یوه کړ کی خلاصه شي او د دې کړکی په واسیطه باندې به دی جنت او په هغه کې شیان ویني، بیا به ورته وویل شي چې وګوره تا د الله نافرماني وکړه الله جل جلاله د څنګه نعمت نه محرومه کړې.
بیا به د هغه په مخکې د دوزخ طرف ته یوه کړکی خلاصه شي، او دهغه په ذریعه به دی د وزخ ویني، چې د اور سکر وتې به یو او بل خوري، بیا به ورته وویل شي دا ستا د اوسېدو ځای دی، ته صرف په شک ژوندی وې او صرف په شک سره تا ته مرګ راغی او انشا الله په قیامت کې به ته هم په شک سره راپورته کېږي (مشکوة / ۲۶ / صفحه)

## مومن ته د فرښتو ویل چې د ناوی په شان ویده شه او منافق او کافر ته د ځمکې زور ورکول

حضرت ابو هریرة رضی الله عنه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې مړی په قبر کې کېښودل شي، هغه ته دوه فرښتې راځي، چې رنګونه یې تور او سترګې یې شنې

وي، او په هغوی کې یوې ته نکیر او بلې ته منکر ویل کېږي، هغه دواړه ده ته وایي ته د هغه صاحب په اړه څه وایې چې تا ته درلېږل شوی وو؟.
هغه مومن بنده ځواب ورکوي چې هغه د الله بنده او د الله جل جلاله رسول دی، زه شاهدي ورکوم چې د الله جل جلاله نه غیر بل څوک معبود نشته او محمد د الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم دی.
له دې ورو سته هغه دواړه فرښتې وایي مونږ ته معلومات وو چې ته به همداشان وایې، بیا د هغه قبر او یا لاسه مربع پراخه کېږي، بیا منور کړی شي بیا ده ته وویل شي چې ته اوس ویده شه هغه به ووایي چې زه خو د خپل حال ښودلو لپاره ځم خپل کور ته فرښتې به ورته ووایي دلته د راتلو نه وروسته د بېرته تللو قانون نشته، ته اوده شه لکه چې ناوې ویده کېږي، چې هغه د خپل خاوند نه علاوه بل څوک نشي پاڅولی، تر دې چې الله جل جلاله به هغه د قیامت په ورځ له دې ځایه پاڅوي.
او که مړ کېدونکی منافق وي، نه هغه د نکیر او منکر د سوال په ځواب کې وایي چې ما د خلکو نه څه اورېدلي هغسې وایم او د دې نه زیات زه نه یم خبر، فرښتې به ورته ووایي: مونږ ته ښه معلومه وه چې ته به همداشان وایې، بیا ځمکې ته امر کېږي چې ده ته ښه زور ورکړئ، بیا ځمکه ده ته ښه زور ورکوي، تردې چې د ده پوښتې یو په بل کې ننوځي، بیا هغه په قبر کې په عذاب کې

اخته او سي، تر دې چې په قيامت کې به يې الله جل جلاله د هغه خاى نه پورته کړي (مشکوة ۲۵ / صفحه).

د پورتنيو احاديثو نه معلومه شوه ، چې ايمان والا کس به په برزخ کې په ارام سره وي، او د برزخ په امتحان کې به بې ويرې وي او کاميابېږي به او بې ايمانه منافق سړی به د برزخ په امتحان کې په ويره کې وي او ناکامېږي به او تر قيامته پورې به په عذاب کې وي، ايمان والا به په برزخ کې دا سوال کوي چې يا الله قيامت زر راوله او بې ايمانه منافق به دا سوال کوي چې يا الله قيامت مه راوله.

## د برزخ مخلوق د مومن نه د حال پوښتنه کوي

حضرت ابو هريرة رضى الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: کله چې فرښتې د مومن روح واخلي، او د هغه مومنانو د روحونو خواته يې يوسي، چې د دوی نه مخکې تللي دي، نو هغوی دا سې ورباندې خوشحاله کېږي لکه په دنيا کې چې تاسې د يوه ورک شوي ملګري په ليدو خوشحاله کېږئ، دوی د دې نه هم زيات ورباندې خوشحاله کېږي.

بيا د هغه نه پوښتنه کوي چې د فلانى څه حال و؟

بيا دوی په خپلو منځونو کې وايي چې تا سې صبر وکړئ بيا به پوښتنې وکړو لږ ارام ته يې پرېږدی، ځکه چې په دنيا کې په غمونو کې اخته وو. بيا به هغه شروع وکړي چې فلانى دا سې وو فلانى دا سې وو، او د هغه کس په باره کې به ووايي چې د ده نه مخکې مړ شوی وي چې فلانى مړ شو، ايا تاسې ته ندی راغلی؟.

بیا به هغوی ووایي چې څه وخت مړ شو نه مونږ ته ندی راغلی نو هغه به خامخا دوزخ ته تللی وي (مشکوة ۱۴۲ صفحه).

## برزخ والاو ته د ژوند اعمال ښودل کېږی

د طبراني په یوه روایت کې دا سې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بېشکه ستاسې اعمال ستاسې د خپلوانو او خاندان والاو په مخ کې ښودل کېږي چې اخرت ته رسېدلي دي، که ستاسو اعمال ښه وي نو دوی ورباندې خوشحالېږي، او د الله جل جلاله نه دعا غواړي چې دا ستا فضل او کرم دی او تاسې خپل نعمت په ده باندې پوره کړې او هم په دې باندې ده ته مرګ ورکړې، او که ستاسې اعمال بېکاره وي نو وایي ای الله جل جلاله د ته په زړه کې نیکي واچوه چې ستا د رضا او قرب سبب شي (مجمع الزوائد / ۲ج / ۳۲۷ صفحه).

## مومن ته د قبر زور ورکول داسې دي لکه مور یې چې خپل ماشوم ته په غېږ کې ورکوي

د حضرت سعید بن المسیب رضی الله عنه نه روایت دی چې حضرت عائشې رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، چې ای د الله جل جلاله رسوله کله چې ما د تاسې نه د نکیر او منکر د هیبت ناک اواز او دقبر د زور ورکولو خبرې اورېدلې دي له هغې وروسته زما په هیڅ شي سره تسلي نه کېږي، او دزړه پرشاني مې نه لرې کېږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای عائشې د نکیر او منکر اواز به د مومن

په غوږونو کې داسې وي لکه چې خوږ اواز په غوږونو باندې ښه لګېږي، لکه سترګو کې چې په رانجو اچولو سره لذت او خوند پیدا کېږي او مومن ته دقبر زور ورکول داسې دي لکه د چا چې په سر باندې درد وي او د هغې مشفقه مور په مزه مزه د خپل زوی سرته زور ورکوي، او دی په هغه سره ارام او راحت محسوسوي، او دا خبره هم په یاد لره ای عائشې رضی الله عنها د الله جل جلاله په باره کې د شک کوونکو لویه خرابي ده او هغوی ته په قبر کې داسې زور ورکوي لکه په هګۍ باندې چې کاڼی (تیږه) کېښودل شي (شرح الصدور / ۴۶ صفحه).

## د اسمان او ځمکې د مومن سره محبت کول او دهغه په مرګ باندې ژړل

حضرت انس رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د هر انسان لپاره د اسمان دوه دروازې دي، په یوه دروازه باندې د هغه عمل پورته کېږي او په بله دروازه باندې د هغه رزق راکوزېږي کله چې مومن مړشي نو دواړه دروازې د هغه په مرګ باندې ژاړي (مشکوة / ۱۵۱ صفحه).
حضرت ابن عمر رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې مومن مړشي نو د هغه په مرګ باندې مقبره خپل ځان ښایسته کړي، او په مقبره کې هیڅ داسې حصه نوي چې هغه د دا تمنا ونه کړي چې دا کس دې په ما کې دفن شي، حضرت ابن عباس رضی

الله عنهما به فرمایل: چې د مومن په مرګ باندې تر ټولو ښتو ورځو پورې ځمکه ژاړي ( شرح الصدور / ۱۴۱ صفحه).
همدا مضمون د حضرت مجاهد تابعي رحمه الله نه هم نقل شوی دی (شرح الصدور / ۱۴۱).
حضرت عطاء خراساني رحمه الله فرمايي: کوم بنده چې د ځمکې په یوه حصه کې سجده کوي، هغه حصه به د قیامت په ورځ د هغه په حق کې شاهدي ورکوي، او د هغه د مرګ په ورځ به ژاړي (اياض از ابو نعيم).

## صدقه جاریه او د اولاد وغیره نه د استغفار ګټه

حضرت ابو امامه رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بېشکه د مرګ ورو سته به مومن ته د هغه د نېکیو نه ځینې شیان رسېږي چې هغه په لاندې ډول سره دي.

(۱). علم چې ده خور کړی وي.

(۲). نیک اولاد چې د ده لپاره دعاکوي.

(۳). قرانکریم یې په میراث کې پرېښی وي.

(۴). جماعت یې جوړ کړی وي.

(۵). مسافرخانه یې جوړه کړې وي.

(۶). جاري لښتی یې جوړ کړی وي.

(۷). په خپل ژوند کې یې داسې صدقه کړې وي چې د ده د مګر نه وروسته د هغې ثواب هم رسېږي (مشکوة / ۳۶ صفحه).

همدا شان د حضرت ابو هريرة رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ببشکه الله جل جلاله به د نیک بنده درجه په جنت کې پورته کړي، او هغه به پوښتنه وکړي چې ای الله دا درجه زما ولې پورته شوه (او چته شوه) الله جل جلاله به ورته وفرمايي ستا اولاد ستا لپاره د عاګانې او بخښنې وغوښتې ستا لپاره یې استغفار وغوښت له هغه وجهې ستا درجه لوړه او پورته شوه (مشکوة / ۲۰۶ صفحه).

## مومن ته دملک الموت سلام

د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې ملک الموت د الله جل جلاله یوه نیک بنده ته راشي، نو هغه ته سلام کوي،او داسې وايي:

اَلسَّلامُ عَلَيْکَ يَا وَلِي اللهِ قُمْ فَاَخْرِجْ مِنْ دَارِکَ اَلَّتِيْ خَرَّبْتَهَااِلی دَارِ اَلَّتِي عَمَّرْتَهَا(شرح الصدور/ ۳۶).

ژباړه: په تاباندې د سلام وي ای د الله جل جلاله دوسته پورته شه د هغه کور نه چې هغه تا په خواهشاتو باندې برباد کوي، او هغه کورته څه چې هغه تا په عبادت کولو سره اباد کړي.

## د مومن په دنیا کې د اوسېدلو نه انکار کول او په هغه باندې زیری کول

حضرت ابن جریج رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت عائشې رضی الله عنها ته وفرمایل: کله

چې مومن د مرګ په وخت کې فرښتې ويني فرښتې هغه ته وايي: مونږ تا بېرته دنيا ته ولېږو او روح دې وا نخلو؟
هغه وايي ايا تاسې ما دغمونو او فکرونو په ځای کې پرېږدی او ځئ؟ زه دلته نه اوسېږم ما الله جل جلاله ته بوځئ (شرح الصدور / ۳۵ صفحه).

حضرت زيد بن اسلم رضی الله عنه فرمايي: د مرګ په وخت مومن ته فرښتې راځي او زيری ورکوي او هغه ته وايي کوم ځای ته چې ځي هغه ته له تللو نه مه وربېږه، نو د هغه ويره به ختمه شي، او هغه ته دا هم وايي چې د دنيا او دنياوالاو په پرېښودلو باندې غم مه کوه، او د جنت زيری واوره نو هغه به په دنيا کې داسې مړشي چې په دنيا کې به الله جل جلاله د ده سترګې يخې کړي (شرح الصدور / ۳۶ صفحه).

## د شهيدانو سره د الله جل جلاله خطاب

حضرت مسروق تابعي رحمه الله روايت کوي چې مونږ د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه نه د دې ايت د تفسير پوښتنه وکړه:

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتًا ۭ بَلْ اَحْيَاۗءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ۝
(بقره / ۱۶۹ ايت))

ژباړه: کوم کسان چې د الله په لار کښې وژل شويدي هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقيقت کښې ژوندي دي، د خپل رب په وړاندې روزي مومي.

حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه وفرمایل: مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د دې ایت د تفسیر په اړه پوښتنه وکړه، بیا یې وفرمایل: د شهیدانو روحونه د شین رنګ مرغانو په ججورو کې دي د هغوی لپاره د الله جل جلاله د عرش نه لاندې د سیوري مشالونه ځوړند شوي او هغوی چرته چې غواړي ګرځي راګرځي، او بیا همغه مشالونو ته راشي، او هلته اوسي الله جل جلاله به هغوی ته وفرمايي: تاسې څه غواړئ؟ هغوی وايي همدا غواړو چې په جنت کې یوې او بلې خواته ګرځو او راګرځو، تر دې چې الله جل جلاله به د دوی سره درې کرته دا سوال او ځواب وکړي، نو کله چې دوی پوهه شي چې تر څو مونږ ځواب نوي ورکړی نو دا سوال او ځواب به جاري وي نو هغوی بیا وايي چې مونږ ته ببرته خپل روحونه زمونږ بدنونو ته راکړه چې مونږ بیا ستا په لاره کې قتل کړی شو، نو کله چې الله جل جلاله دا معلومه کړي چې دوی څه ته حاجت نلري، نو دوی پرېږدي او بیا د دوی نه پوښتنه نکوي، یعنی د هغه ځای هیڅ شی دوی ونه غوښتلو او دوی د دنیا سوال وکړ چې هغه د قانون نه خلاف دی له همدې وجهې د هغوی نه بیا پوښتنه ونه شوه (مشکوة / ۳۰۲ صفحه).

د شنو مرغانو په ججورو کې کېدل دا تر شهیدانو پورې خاص ندي، بلکې د نورو مومنانو روحونه هم د شنو مرغانو په ججورو کې سیل کولی شي، څرنګه چې د کعب بن مالک رضی الله عنه په حدیث شریف کې راځي:

إِنَّ اَرْوَاحَ الْمُوْمِنِينَ فِيْ طَيْرٍ تَعلقُ بِشَجَرِ الجَنةِ، مشکوة / ۱۴۳ صفحه).

ژباړه: بې له شکه دایمان والا روحونه به په شنو مرغو کې وي چې د جنت د ونو نه خوري او څکي.

ملاعلي قاري رحمه الله په مشکوة شرح د مشکوة کې ليکي: چې په حديث شريف کې راځي: بېشکه د ايمان والاو روحونه به په جنت کې د مرغانو په ججورو کې د جنت ميوې خوري او اوبه به څکي، او د عرش نه لاندې د سروزرو په مشالونو کې به ارام کوي (مرقات/ ۴ج / ۳۰ صفحه).

## د شهادت تکليف د ميږي د چيچلو په اندازه باندې وي

د حضرت ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: شهيد ته د شهيد کېدو په وخت کې دومره تکليف رسيږي لکه تاسې ته چې د ميږي چيچلو په وخت کې رسېږي (مشکوة / ۳۳۳ صفحه).

## د قبر د عذاب تفصلي بيان

د اهل السنة والجماعة د عقيدې موافق عذاب قبر حق دی ځنګه چې مومنانو ، صالحانو ته په جنت کې ارام حاصلېږي او په خوشحالی سره ته قيامت پورې اوسېږي همداشان کافرانو او بد کارانو ته په قبر کې عذاب ورکول کېږي، دا خبره د احاديثو نه ثابته شوې ده، حضرت عائشې رضی الله عنها ته يوه يهوده زنانه

راغله او بي بي عائشې رضی الله عنها د هغه په وړاندې د قبر د عذاب تذکره وکړه، او ورته یې فرمایل: أَعَاذَكَ اللّٰهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.
ژباړه: تا دي الله جل جلاله د قبر د عذاب نه په پنا کې وساتي.
حضرت عائشې رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د قبر د عذاب په اړه پوښتنه وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نَعَمْ عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ. (مشکوة / ۲۵ / صفحه).
ژباړه: د قبر عذاب حق دی.
حضرت عائشة رضی الله عنها فرمایي: له دې وروسته به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله هم مونځ کولو نو دقبر د عذاب نه به یې ضرور پنا غوښتله.
حضرت عثمان رضی الله عنه به چې کله له کوم قبر سره ودرېدو دومره به یې وژړل چې ږیره مبارکه به یې لمده شوه، یوه ورځ پوښتنه ترې وشوه چې تاسې ولې د جنت او دوزخ د ذکر کولو سره نه ژاړی او د قبر د لیدو سره دومره ژاړی؟.
عثمان رضی الله عنه ځواب وکړ چې بېشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: چې قبر د اخرت د منازلو نه لمړی منزل دی که چا د دې نه خلاصون او کامیابي حاصله کړه وروسته بیا ټول اسان دي او که چا په دې منزل کې کامیابي حاصله نکړه نو د هغه لپاره وروستني منزلونه له دې څخه هم سخت دي (مشکوة / ۲۶ صفحه).

## په قبر کې عذاب ورکوونکي ماران

حضرت ابو سعيد الخدري رضی الله عنه فرمايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په قبر کې به په کافر باندې ضرور (۹۹) نه نوي ماران مقررېږي، چې تر قيامته پورې به هغه چيچي د هغې زهر داسې دي چې که يو هم په ځمکه کې پوکی ووهي، نو د هغې دزهرو له امله به په ځمکه يو ډکی هم راشين نشي.

## په قبر کې د عذاب د وجهې نه دمړي چغې وهل او د اوسپنې په ګرزونو باندې د هغه وهل کېدل

د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: کله چې کافر ځواب ورکوي چې های های ماته معلومات نشته نو د اسمان نه يو اواز کوونکی اواز کوي چې دی دروغ وايي، او د ده نه لاندې اور واچوی، د اور جامې ور واغوندی او د ده لپاره د دوزخ د دروازو نه يوه دروازه را خلاصه کړئ، کله چې دروازه خلاصه شي نو د هغې نه به د دوزخ تاو او ګرمي راځي، او د هغه قبر به تنګ شي تردې چې پوښتی به يې يو او په بل کې ننوځي، بيا د هغه لپاره د عذاب لپاره يوعذاب ورکوونکی مقرر شي، چې ړوند او کوڼ وي، او د هغه سره د اوسپنې ګرز وي، چې د هغه حقيقت دا دی چې که په هغه باندې غر ووهل شي نو غر به ميده ميده شي، او بيا يې وفرمايل: چې په دغه ګرز باندې يې يو خل ووهي، نو د هغه کس اواز د مشرق نه تر مغرب پورې غير د انسانانو او پيريانو نه نور ټول

مخلوق اوري، په یو ځل وهلو سره هغه ټول خاورې شي او په هغه کې بیا روح اچول کېږي (مشکوة / ۲۶ صفحه).
پوښتنه: انسانانو او پیریانو ته د هغه د چیغو وهلو اواز ولې نه اورول کېږي؟
ځواب: د دوی د عالم برزخ سره واسطه پرې وځي، که دوی ته د قبر عذاب وښودل شي، یا واورول شي، نو ایمان به راوړي، او نیک عملونه به شروع کړي، په دا سې حال کې چې د الله جل جلاله په نزد ایمان بالغیب معتبر دی، چې صرف د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرې اورېدلو سره ایمان راوړل دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحیح منل ده چې څه راوړي په هغه یقین ته ایمان ویل کېږي.
(اِنَّ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَیْبِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ اَجْرٌ کَبِیْرٌ ﴿۱۲﴾)(سورة ملک / ۱۲ ایت).
ژباړه: کوم کسان چې نالیدلي له خپل رب نه وېرېږي، په باوري ډول هغوته بښنه ده او لوی ثواب.

## چغلی کولو او متیازو نه ځان نه ساتلو له امله د قبر عذاب

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوو قبرونو باندې تېرېدو، او رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل د وی ته عذاب ورکول کېږي، او دا عذاب د کوم غټ مشکل کار له امله نه ورکول کېږي، بلکې په داسې معمولي خبرو باندې چې د هغه نه یې ځان هم ساتلی شوی، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی د واړو ګناهونو بیان

په تفصيلي ډول سره وکړ، چې په دوی دواړو کې به يوه په متيازو کې پرده نه کوله، او په يوه روايت کې دي چې دمتيازو نه به يې ځان نه ساتلو، او د دويم کس به چغلي کوله بيا يې، يوه شنه لښته راوغوښتله او هغه يې په مابين باندې ماته کړه نيمه يې په يوه قبر باندې ښخه کړه او نيمه يې په بل قبر باندې ښخه کړه. صحابه کرام ووېل: ای د الله جل جلاله رسول الله صلی الله عليه وسلمه تاسې داسې ولې وکړل، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : د دې په اميد چې د دوی دواړو نه عذاب سپک شي (مشکوة / ۴۲ صفحه).

## په ځينو مخصوصو کارونو مخصوص عذابونه

په بخاري شريف کې يو اوږد حديث دی او په هغه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم يو خوب روايت شوی دی چې په هغه کې د عالم برزخ خاص خاص عذابونه ذکر شوي دي.
رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چې ما نن شپه خوب ليدلی دی چې دوه کسان ماته راغلل او زما لاس يې ونيولو او زه يې يوې پاکې ځمکې ته بوتلم ومې ليدل چې يو کس ناست او بل ولاړ دی، او په لاس کې يې د او سپنې قيچي وه او د دې ناست کس وښکی يې ورباندې غوځولو، تر دې چې اوږې ته يې ورسبړي، بيا د دويم کس د وښکي سره هم همداسې شان معامله کېده. او د لمړني کس وښکی ببرته جوړ شو، هغه د اوسپنې قيچې والا سړی به بيا د هغه جوړ شوي کس سره دا سې معامله کوله. ما پوښتنه وکړه چې دا څه خبره ده هغه دوه کسانو چې زه

يې را وستلی وم ، ماته وويل مخکې څه ، مونږ دا سې يو کس ولیدو چې ملاست وو، په سر باندې يې ډيره درنده تېږه نيولې وه، د ولاړ کس په ډير زور سره د دې ملاست کس سر ماتولو کله به يې چې سر میده شو نو هغه کاڼې به ورغښتو لرې به لاړ، او دا کس به بيا جوړ شو، بيا به همدې کس کاڼی (تېږه) را واخسته او د هغه سر به يې ورباندې ماتولو ، ما پوښتنه وکړه چې دا څه دي، او دا ولې؟ هغه دوه کسانو راته وويل: مخکې ځی تردې چې مونږ يوه داسې غار ته ورسېدو چې د تنور په شان ته وو، په خوله کې تنګ او په پای کې ډير لوی وو، په دې اور کې لوڅ سړي او لوڅې ښځې سوځېدې ما پوښتنه وکړه چې دا څه دي؟ هغه کسانو راته وويل: مخکې ځئ، مونږ مخکې لاړو، تر دې چې د وينو نهر يا سيند ته ورسېدو، په دې سيند يا نهر کې يو کس ولاړ وو او دسيند په غاړه باندې يو بل کس په داسې حال کې ولاړو چې مخې ته يې ډير کاڼي پراته وو، هغه د سيند د مابين سړي به د سيند نه بېرون ته حرکت کولو کله به چې وتلو ته برابر شو هغه بل کس به په کاڼو باندې په خوله باندې په دومره تيزۍ سره وويشتو چې بېرته به هغه خپل ځای ته ورسيدو، بيا به چې کله هغه بېرون ته وتل غوښتل هغه بل به همغه شان منع کولو، ما پوښتنه وکړه چې دا څه دي؟

هغوی دواړو راته وويل: مخکې ځی مونږ مخکې لاړو تردې چې يوه شين ډک باغ ته ورسېدو، په هغه باغ کې يوه لويه ونه او په هغه باغ کې د همدې ونې لاندې يو بوډا سړی او ماشومان ، او يو

کس ناست وو او د هغه مخې ته اور بلېدو، او دا اور يې تيزولو بيا هغوی دواړو زه د ونې سر ته بوتلم هلته يو ډېر ښايسته کورو وو، زه يې هغه کورته داخل کړم او ما داسې ښايسته کور نه وو ليدلی، په هغه کور کې ډېر سړي بوډا ګان، ځوانان ، ماشومان، سړي او ښځې وو، بيا يې د هغه نه پورته يوه بل کورته بوتلم هغه له دې هم ښآيسته کور وو، هغه ته يې داخل کړم په هغه کې هم بوډا ګان ځوانا وو، ما هغه دواړو کسانو ته وويل: زه خو مو ټوله شپه وګرځولم، اوس نو ووايې چې دا کوم شی چې ماوليدل دا څه و ؟

هغوی وويل: هغه کسان چې وښکی يې د اوسپنې په قچي باندې غوځېدل هغه دروغجن وو، چې د دروغو خبرې به يې جوړه ولې، او هغه خبرې په نړۍ کې مشهورې شوي دي نو د ده سره به تر قيامته پورې همداسې کېږي.

او هغه کس چې سر يې ماتيدلو هغه کس ته الله جل جلاله قران وښودلو .او ده عمل ورباندې نه کولو، نو تر قيامته پورې به د ده سره همداشان معامله کېږي، او هغه نارينه او زنانه چې تاسې د اور په غار کې وليدل، هغوی زنا کوونکي خلک وو،او هغه چې د ويښو په سيند يا نهر کې مو وليدل هغوی سود خوړونکي خلک و.او د ونې نه لاندې چې کوم بوډا کس ناست وو هغه ابراهيم عليه سلام و، او د هغه ګرد چاپيره چې کوم ماشومان وو، هغه د خلکو نابالغ بچيان وو، او کوم کس چې اور تيزولو هغه د دوزخ مالک وو.او لمړي کورته چې ته داخل شوي هغه کور د عامو مسلمانانو

دی ، او د ویم کور د شهیدانو دی، زه جبرائیل یم او دا مکائیل علیه سلام دی، بیا یې وویل: سر پورته کړه ما چې کله پورته وکتل زما په نظر باندې یوه سپینه وریځ راغله او ویې ویل دا ستا کور دی، ما ورته وویل: ما پریږدی چې زه خپل کورته دا خل شم د وی وویل تر اوسه پورې ستا عمر باقي دی، تر اوسه ندی پوره شوی که پوره شوی وي نو همدا اوس به تللی وي (مشکوة / ۳۹۵ / صفحه).

فائده: د دې پیژندل پکار دي چې د انبیا وو، خوب وحي وي، او دا ټول واقعات صحیح دي د پورتني حدیث شریف نه د ډیرو شیانو حال معلوم شو، لمړی د دروغو څومره لویه سزا ده، دویم د بې عمله عالم، د ریم زناکار، څلورم سود الله جل جلاله د ټول مسلمانان د دې کارونو نه محفوظ وساتي، امین.

## د مړي سره د ځمکې خبرې کول

حضرت ابو سعید الخدري رضی الله عنه روایت کوي چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړو رسول الله صلی الله علیه وسلم خلک په داسې حال کې ولیدل چې په زوره زوره یې خندل او غابنونه یې ښکاره کېدل، د دوی د حال په لیدو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خبر دار که چرته تاسې د لذتونو د ماتولو شی مرګ زیات یادولی نو تاسې به ما په داسې حال کې لیدلي نه وی، نو تاسې د لذتونو شی ډیر یادوی دا سې ورځ به نوي چې قبر اواز نه کوي بلکې قبر هره ورځ اواز کوي چې

زه د نا اشنايي کوريم ، زه يوازې کوريم، زه د تورو تيارو کوريم.
او زه د چينجيو کور يم

بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې مومن بنده دفن کړی شي نو هغه ته قبر وايي مرحبا خپل کورته پخير راغلې، ببشکه ماته د ټولو نه هغه څه زيات خوښ دي چې په ماباندې ګرځېدل، نو چې کله ته ماته حواله شوې نو اوس به زما سلوک هم ووينې له دې وروسته به قبر د ومره لوی شي څومره چې د ده د سترګو نظر ځي، او د هغه د پاره د جنت يوه دروازه خلاصېږي. خو کله چې کافر يا فاجر دفن کړی شي، چې ستا راتلل دلته ډير بد دي، او ته بد ځای ته راغلې. او په دې پوه شه چې په ماباندې ګرځېدونکو کې تر ټولو نه ته ماته ډير بد يې
( دښمن يې) نو کله چې ته ماته حواله شوي نو اوس به ته هم ووينې چې زه اوس د تاسره کوم شان معامله کوم ، له دې وروسته به هغه ته داسې زور ورکړي چې ښی پوښتی به يې په چپه پوښتی کې ننوځي، او رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کې داخلې کړې (مشکوة / ۴۵۷/ صفحه)

## د قبر د عذاب نه ساتل شوي کسان

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: کله چې مړی په قبر کې کېښودل شي. او د هغه نه بېرته خلک را وګرځي، د هغه د پای زار اواز اوري، که چرته دامړی مومن وي نو مونځ يې سر ته ودرېږي. روژه يې ښي طرف ته، زکوة يې چپ طرف ته، که يې په دنيا کې نفل کارونه کړي وي، مثلا صدقه ، نفل مونځ، د خلکو

سره نیکي، هغه یې د پښو طرف ته راشي، که چرته د هغه د سر طرف ته عذاب راځي نو مونځ ورته وایي زما د طرف نه به نه ځي اوزما دطرف نه تا ته د تللو ځای نشته، بیا چې د هغه د ښي طرف نه ده ته عذاب راځي نو روژه ورته وایي زما د طرف نه به تاته د تللو ځای نه وي، بیا چې کله هغه د چپ طرف نه ورځي، نو زکوة به ورته وایي چې زما د طرف نه تاته د ورتللو ځای نشته، بیا چې هغه د پښو د طرف نه راځي نو هغه نفلي صدقات نفلونه کول ورته وایي چې زمونږ د طرف نه تا ته د دې اجازه نشته چې ته ده ته ورشي (الترغیب والترهیب/ ۴ج / ۳۷۱ صفحه).

## د سورة ملک او الم سجده لوستلو والا کس

د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه صحابي په یوه قبر باندې خیمه ولګوله، او دې صحابي ته معلومات نه وو، چې دا قبر دی، د ده فکر شو چې په د قبر کې یو کس دی سورة ملک لولي تردې چې ټول قران یې ختم کړو، دا واقعه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته واوروله، هغه وفرمایل د اسورة عذاب بنده ونکی دی (مشکوة / ۱۸۷ صفحه).

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل بېشکه په قرانکریم کې دا سې یو سورة دی چې دریرش ایتونه لري، هغه به د لوستونکي تر هغه شفاعت کوي چې هغه ته بخښنه وشي، بیا یې وفرمایل هغه سورة تبارک الذي بیده الملک دی (مشکوة / ۱۸۷ صفحه).

حضرت معدان رحمه الله به د سورة تبارک الذي، او سورة الم سجده په باره کې فرمایل چې دا دواړه سورتونه په قبر کې د خپل ویونکي د پاره جګړه کوي، او په دواړو کې به هر یو وايي، چې ای الله جل جلاله ایآ زه ستا دکتاب نه نیم نو ما د خپل کتاب نه وران کړه او یا دې کس ته بخښنه وکړه او دا به یې هم فرمایل چې د ا دواړه سورتونه به د مرغو په شان په خپل لوستونکي باندې خپلې وزرې خورې کړي او دی به دقبر د عذاب نه ساتي ( مشکوة / ۱۸۹ / صفحه)

په د دې دواړو سورتونو کې د قبر د عذاب نه د بچ کېدو ډېر دخل دی څرنګه چې د پورتني روایت نه ظاهر شوه، په حدیث مبارک کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به غیر د دې دواړو سورتونو د لوستلو نه مخکې نه ویده کېدو (مشکوة / ۱۸۸ / صفحه).

فائده. څرنګه چې د غه دواړه سورتونه د قبر د عذاب نه بچ کېدونکي دي همداشان چغل خوري او د متیازو نه ځان نه ساتل د قبر د عذاب راوستونکي دي.

## د خیټې په مرض کې مړ کېدونکی

حضرت سلیمان بن صرد رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم مومن بنده چې د خیټې د درد له امله مړشي هغه د قبر د عذاب نه خلاص شو او هغه ته د قبر عذاب نه ورکول کېږي (مشکوة / ۱۳۷ صفحه).

د خيټې ډير مرضونه دي خو دهغوی نه چې په هر يوه باندې سړی مړشي هغه کس ته د قبر عذاب نشته. هر يوه ته د حديث شريف مضمون شامل دی.

## د جمعې په شپه يا ورځ مړ کېدونکی

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کوم مسلمان چې د جمعې په ورځ يا شپه مړ شي، هغه الله جل جلاله د قبر دعذاب نه محفوظ ساتي (مشکوة / ۱۲۱ / صفحه)

## په رمضان کې مړ کېدونکی شخص

حضرت انس رضی الله عنه فرمايي بې له شکه د رمضان په مياشت کې د مړو نه د قبر عذاب پورته شوی وي (شرح الصدور / ۸۱ صفحه)

د حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کوم کس چې د جمعې په شپه باندې مړ شو هغه د قبر د عذاب نه محفوظ پاتې شو (شرح الصدور / ۸۱ صفحه)

## محافظ، مرابط، او شهيد

د حضرت مقدام بن معديکرب رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د الله جل جلاله سره د شهيد لپاره شپږ انعامونه دي.

(۱) د وینې د لمړی قطرې تویدلو سره د هغه ګناهونه بخښل کېږي او په جنت کې ورته خپل ځای ښودل کېږي.
(۲) هغه د قبر د عذاب نه محفوظ پاتې کېږي.
(۳) د هغه لویې ویرې نه به محفوظ وي چې د شپېلی پوکولو په وخت کې وي.
(۴) په سر به یې د عزت تاج ایښودل کېږي، چې یو یاقوت به یې د دنیا او څه چې په دنیا کې وي د هغه نه بهتره وي.
(۵) د ده لپاره به بهتره حورې (غټو غټو سترګو والا حورې) ورکړل شي.
(۶) د اویا خپلوانو په باره کې به د هغه سپارش قبول شي (مشکوة / ۳۳۳ / صفحه).

حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه فرمايي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د الله جل جلاله په لاره کې د اسلامي ملک د حفاظت لپاره په سرحد باندې یوه ورځ اوشپه تیرول د یوې میاشتې نفلي روژې نیولو او په مانځه کې د یوې میاشتې ودرېدلو نه بهتره دی او که دا ساتونکی په همدې حالت کې مړشو، نو کوم عمل چې د ه کولو هغه به تر قیامته پورې د ده لپاره تر قیامته پورې حساب وي، او تر قیامته پورې به جاري وي، او رزق به یې جاري وي او قبر کې به د فتنو اچونکو نه په امن کې وي (مشکوة / ۳۲۹ صفحه).

د حضرت ابو ایوب انصاري رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم کس چې د دښمن

سره په مقابله کې شو، او بیا ثابت قدم پاتې شو، تر دې چې ووژل شو او یا کامیاب شو نو په قبر کې به د فتنو نه په امن کې پاتې شي( شرح الصدور / ۶۳ صفحه).

## یو کس ځمکې قبول نکړو!!

د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی وایي: یو کس د رسول الله صلی الله علیه وسلم کاتب و، هغه د اسلام نه واوړیدو او د مشرکانو سره یو ځای شو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته ښېرا وکړه چې هغه به ځمکه نه قبلوي کله چې هغه مړشو ابو طلحه رضی الله عنه د هغه قبر ته ورغی او هغه کس یې د قبر نه بهر پروت ولیدو، د ده په لیدلو سره ابو طلحه رضی الله عنه دهغه ځای د خلکو نه پوښتنه وکړه چې دا څه قیصه ده؟ هغه خلکو ووېل کله چې دی مونږ دفن کړو ، ځمکې قبول نکړو بېرون ته یې را وغورځولو، او څو ځله مونږ دی دفن کړو خو هغه ځمکې قبول نکړو، نو مونږ دی همداسې پرېښودو(مشکوة / ۵۳۵ صفحه).

د بعضې استادانو نه احقر راقم الحروف دا واقعه اورېدلې ده چې د یوه عالم قبر د یوه ضرورت له امله لوڅ کړ شو او دا قبر په مدینه منوره کې وو، چې په هغه قبر کې د یوې نجلی نعش راووتلو، په کتونکو کې خینې خلکو دا جینی پېژندله، او هغوی ته معلومه وه چې د فلاني ښار د فلاني عیسایي لور ده، دوی هلته د رسېدو سره سم د هغې د مور او پلار نه د دې حالت د معلومولو پرښتنه وکړه، او دقبر پوښتنه یې ترې وکړه، هغوی ورته قبر اوښودلو او

دا یې هم وویل هغه د زړه نه مسلمانه وه، او په مدینه منوره کې یې دمرګ خواهش لرلو، کله یې چې د هغه جینی قبر را لوڅ کړ په هغه قبر کې یې د هغه عالم نعش ولیدو د هغه عالم چې د ده په قبر کې په مدینه منوره کې جینی لیدل شوې وه.

بیا یې د هغه عالم د ښځې نه د هغه دحال په اړه پوښتنه وکړه، هغې وویل: چې ډیر نیک سړی و، خو دومره خبره وه چې ده به ویل په عیسایي مذهب کې دا خبره ډیره اسانه ده چې د هغوی په نزد باندې د جنابت غسل ضروري ندی، له همدې وجهې نه د جینی قبر ته رسېدلی دی.

## په برزخ کې سحر او ماښام د جنت یا دوزخ پیش کېدل

حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بېشکه کله چې په تاسې کې څوک مړشي، نو سحر او ماښام د هغه ځای جنت یا دوزخ (د هغه مخامخ) ښودلی شي، که هغه جنتي وي نو سحر او ماښام هغه ته جنت ښودل کېږي، او که هغه دوزخي وي نو هغه ته سحر او ماښام دوزخ ښودل کېږي او ورته ویل کېږي چې دا قبر ستا د راحت او عذاب ځای دی او نږدې ده چې له دې ځای نه به الله جل جلاله تا هغه ځای ته پورته کړي. کوم چې تاته وښودل شو (مشکوة / ۳۵ صفحه)

# انبیاء علیهم السلام د وفات کېدلو نه پس په عالم برزخ کې په قطعي ډول ژوندي دي

علامة جلال الدین سیوطي رحمه الله په خپله رساله انبیاء والاذکیاء بحیاة الانبیاء (علیهم السلام) کې لیکلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او د نوور ټولو انبیاء کرامو په قبرونو کې ژوندي کېدل مونږ ته په علم قطعي سره معلوم دي. ځکه چې په دباره کې دلائل شته او اخبار د تواتر درجې ته رسېږي.

حضرت امام بیهقي رحمه الله په دي باره کې مستقله رساله لیکلې ده، چې انبیا ء کرام په خپلو قبرونو کې ژوندي دي، دکومو حدیثونو نه چې دا خبره ثابتېږي په هغه کې یو هغه حدیث دی کوم چې امام مسلم رحمه الله د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت کړی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په کوم کال معراج وشو، هغوی په حضرت موسی علیه سلام باندې تیرشول، او هغوی علیه سلام په خپل قبر کې مونځ کولو (صحیح مسلم / ۲ج / ۲۶۸ صفحه / کتاب الفضائل).

حافظ ابن نعیم هم په حلیة الاولیاء کې د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت موسی علیه سلام په قبر باندې تیرشو هغوی په لمانځه ولاړ وو یعنی لمونځ یې کولو

ابو یعلی په خپل مسند کې د امام بیهقي په کتاب حیاة الانبیاء کې د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې انبیا ء علیه السلام په خپلو

قبرونو کې ژوندي دي مونځ کوي، او دا لمونځ د لذت او تنعيم د پاره دی، ځکه دوی هلته مکلف ندي.
حضرت امام ابو داود او امام بيهقي رحمهم الله د اوس بن اوس ثقفي نه روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چې ستاسې په ورځو کې بهترينه ورځ د جمعې ورځ ده، له همدې وجې په دې ورځ باندې په ماباندې زيات درود شريف لولی، ځکه چې ستاسو د رود ماته را وړاندې کولی شي، صحابه و عرض وکړ ای د الله جل جلاله رسوله، زمونږ درود شريف په تاباندې څنګه پيش کېدی شي، په داسې حال کې چې تاسې به ميده ميده خاورې شوي وی، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ببشکه الله جل جلاله په ځمکه باندې د خپلو نبيانو جسدونه حرام کړي دي او د دوی بدنونه به نه خوري (مستدرک / ۱ج / ۲۷۸ صفحه وقال صحيح علی شرط البخاري).
امام بيهقي پخپله رساله کې تحرير فرمايي: چې د انبياء عليه سلام د مرګ نه پس په ژوندي کېدلو مختليف شواهد دي، په هغې کې د معراج دشپې ملاقات هم دی، چې په دې شپه رسول الله صلی الله عليه وسلم د يوې ډلې د نبيانو سره ملاقات هم وکړو، او په خپلو کې يې خبرې هم شوې (بخاري / ۱ج / ۵۰ صفحه).

## رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دامت اعمال وړاندې کيږي

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: زما ژوند ستاسې لپاره بهتر دی، او زما وفات هم ستاسې لپاره بهتر دی ، او ستاسې اعمال ماته وړاندې کيږي، او کومه نيکي چې زه ستاسې ووينم نو په هغه باندې به زه خوشحاليږم او د الله جل جلاله تعريف به کوم . او که کومه بدي ووينم نو ستاسې لپاره به د الله جل جلاله نه بخښنه غواړم (مجمع الزوائد / ۹ج / ۲۴ صفحه).

## د روضې مطهرې سره چې څوک درود شريف ووايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم يې پخپله اوري او څوک چې دلرې نه درود او سلام ووايي، هغه فرښتې رسوي

د حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: بيشکه د الله جل جلاله ډيرې فرښتې دي، چې په ځمکه کې ګرځي، او زما د امت سلام ماته رسوي.

(رواه النسائي / وابن حبان فی صحيحه کما فی الترغيب والترهيب للمنذري/ ۲ج / ۴۹۸ صفحه)

حضرت حسن بن علي رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: تاسې چې په هر ځای کې وی په ما باندې درود شريف ولولی ځکه چې ستاسې درود ماته رسيږي

(قال فی الترغیب ۲ج/ ۴۹۸ صفحه).

## د صحابه کرامو رضی الله عنهم په پاکــــــــه روضه باندې سلام کول

حضرت عبد الله ابن دینار تابعي رحمه الله فرمایي چې ما حضرت ابن عمر رضی الله عنهما ولیدو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په قبر باندې ولاړو او درود ئې لوستلو او د حضرت ابو بکر او او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهما لپاره یې دعا کوله.

په دویم روایت کې داسې دي چې کله به حضرت ابن عمر رضی الله عنه د سفر اراده وکړه یا به د سفر نه را وګرځېدو نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم قبرته به راغلو په درود شریف لوستلو او دعا کولو سره به بېرته تللو

او په دریم روایت کې داسې راځي چې کله به ابن عمر رضی الله عنه د سفر نه راتلو نو لمړی به د رسول الله صلی الله علیه وسلم قبر ته راتلو او په هغه باندې به یې درود شریف لوستلو او قبر به یې په لاسونو باندې مسح کولو بیا به یې په حضرت ابو بکر رضی الله عنه باندې سلام کولو. بیا به یې په حضرت عمر فاروق رضی الله عنه باندې سلام کولو. او داسې به یې ویل: السلام علیک یا ابت او په یوه روایت کې د سلام الفاظ داسې دي. اسلام علیک یا رسول الله السلام علی ابی بکر

(دا ټول روایات حافظ شمس الدین سخاوي په القول البدیع / ۲۱۰ صفحه باندې نقل کړي)

قاضي عياض رحمة الله عليه په الشفاء التعريف حقوق المصطفى ، ۲ج / ۱۹۹ / صفحه باندې د حضرت نافع نه نقل کړی دی چې ما سل خل يا د دېنه هم زيات حضرت ابن عمر رضی الله عنه وليدو چې قبر شريف ته به راغی او داسې به يې ويل:
السلام على النبي صلى الله عليه وسلم السلام على ابى د دې نه پس به بېرته تللو

## د نورو کسانو په واسطه باندې سلام لېږل

حافظ شمس الدين سخاوي رحمه الله ليکي: حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله يزيد بن ابي سعيد مدني ته ووي چې کله ته مدينې منورې ته ورسې نو په بارګاه رسالت کې زما سلام وړاندې کړه (القول البديع / ۲۱۱ صفحه).
همداشان يې په الشفاء کې هم نقل کړي دي، او زياتې خبرې يې دا ليکلې دي : چې حضرت عمر بن عبد العزيز په بارګاه رسالت کې سلام کولو لپاره د شام نه قاصد لېږلو (الشفاء / ۲ج / ۱۹۸ صفحه).

دا ښکاره خبره ده چې په د نيا کې حاضرين مخامخ سلام کوي او کوم څوک چې حاضر نوي هغه ته د چا په لاس سره سلام لېږي، الله جل جلاله په خپل کامل رحمت سره دا سلسله جاري ساتلې ده.
چې کوم مسلمان په خپل رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې سلام ولېږي، نو هغه د فرښتو په ذريعه سره رسوي، او د خليفه راشد حضرت عمر بن عبد العزيز رحمة الله عليه د عمل نه معلومه شوه چې د فرښتو نه علاوه مدينې منورې ته د تلونکي

په ذریعه سره هم سلام لیږل صحیح دي، له د ې معلومه شوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په برزخي ژوند کې هم د امت سره تعلق شته دی.

## د احد د شهیدانو بدنونه ډیر کلونه پس هم جوړ او روغ و

په موطاء امام مالک کې راځي، چې د عمربن جموع انصاري او عبد الله بن عمر انصاري رضی الله عنه دواړو قبرونه د زیاتو اوبو له امله لوېدلي وو، او دوی دواړه د احد په غزا کې شهیدان شوی وو. او دواړه په یوه قبر کې ښخ شوي وو، کله چې د دوی قبر اوبو وران کړ نو د دوی لپاره بل ځای قبرونه جوړ شول، او د دوی په بدنونو کې د ذرې په اندازه باندې فرق هم نه وو راغلی، او داسې معلومېدل تابه ویل چې تیره ورځ وفات شوي دي، او په خپل زخم باندې یې لاس ایښی وو، د احد دغزا نه تر دې وخته پورې ۴۶ کاله موده تېره شوې وه(موطاء مالک اخر د کتاب الجهاد).

دا واقعه حافظ ابن کثیر رحمه الله په البدایة والنهایه کې هم نقل کړې ده.

د احد دشهیدانو نه غیر نور هم د بعضو اکابرو متعلق د سیر او تاریخ کتابونو دا ثابته کړې چې دوی د دفن کولو نه سونه کلونه وروسته هم همغه شان ته وو په کوم حالت کې چې د وفات په لمړ ورځ باندې وو. په بدن کې یې هیڅ تغیر نه وو راغلی.

او د انبیاء کرامو په اړه خو په حدیث شریف کې په قطعي ډول سره فیصله شوې ده چې د هغوی بدنونه په ځمکه باندې حرام

شوي دي، او که د انبياو نه غير الله جل جلاله د اشرف بل چاته وبخښي نو دا هم د الله جل جلاله د رحمت نه لرې نده.

## فکر او اعتبار

د برزخ د حالاتو رساله ختميږي، په دې کې د برزخ مفصل حالات ذکر شوي دي، د منکر او نکير د سوال ځواب، ارام او راحت ، مصيبت او تکليف، د جنت او دو زخ پيش کېدل سحر او مابنام، د عذاب قبر حالات او د عذاب قبر بعضې اسباب او دقبر د عذاب نه محفوظ پاتې کېدونکي حضرات او عالم برزخ ته د تلونکي کس لپاره د نورو راجمع کېدل او د دنيا والو د حالاتو پوښتنه کول، د شهداو اعزاز او اکرام او داسې نورې ډيرې خبرې په مختصرو پاڼو کې راغلې دي.

د دې کتاب د لوستلو نه وروسته د خپل مرګ او قبر د اوږ د ژوند په اړه فکر کول ضروري دي، او دا دنيا خو په ارام او مصيبت سره تيريږي څوک وړوکي دي او څوک لوی دي، څوک غريب دي څوک مالداره څوک بادشاه او څوک عسکر، څوک د لوړې مرتبې خاوندان او څوک د ټيټې مرتبې خاوندان، څوک يې ښه اغوندي او خوري او څوک يې نشي خوړی او نه يې اغوستی شي بلکې هغوی صبر کوي، خو دا خبره په ياد لرئ چې د مرګ په وخت کې به له مونږ سره څه وي.

په دنيا کې همشه اوسېدل نشته، د مرګ راتلل دي، نو کوښښ وکړئ چې نيک عملونه وکړئ که مړ کېدونکی فاسق او فاجر وو ، بېلمازه وو، غاصب او ظالم وو، رشوتونه به يې اخستل ظالمانه

فیصلې به یې کولې، حج به چې ورباندې فرض شو نه به یې کولو. هر کال به ورباندې زکات فرض کېدو مګر نه به یې کولود رمضان مبارک روژه به یې خوړله

د مرګ هیڅ فکر یې نه کولو په بدو اعمالو کې لګیاوو. نو د ده د خرابو اعمالو له امله به ده ته عذاب ورکول کېږي

په حدیث شریف کې راځي. چې تر قبر پورې له مړي سره درې شیان ځي، چې په هغه کې دوه بېرته ترې راځي او یو ورسره هلته پاتې کېږي، چې هغه دوه د مړي کور والا مال (د جنازې کټ او داسې نور) او د ده عمل ورسره ځي بیا یواځې عمل ورسره پاتې کېږي او هغه نور بېرته ترې راځي (مشکوة / ۴۴۰ / صفحه).

کور والا به په دنیا کې ترې جدا شي په داسې حال کې چې دی د خپل کور والا لپاره په دنیا کې څومره تکلیف تیروي، په لویو لویو ګناهونو کې اخته شي. حرام مال د دوی لپاره ګټي، رشوتونه اخلي. دخپل مرګ نه پس ژوند لپاره عذاب پیدا کوي. او داسې فکر کوي چې زه کامیاب شوم. او حال دا چې په ځان باندې ظلم دی. ډیر لوی غفلت او ناپوهتیا ده او کم عقل توب دی. په هر کس باندې لازم دي چې د مرګ نه وروسته ژوند لپاره څه وکړي. ګناهونه پرېږدي او د کړېو ګناهونو نه توبه وباسي. حقوق ادا کړي د فرائضو اهتمام وکړي. او په اخلاص سره د الله تعالی عبادت وکړي. الله تعالی دې مونږ ټولو ته دعمل کولو توفیق نصیب کړي. او مونږ ټول دې په خپل رحمت کې پټ کړي. وماذالک علی الله بعزیز. الهم اغفرلنا ورحمنا وعف عنا یا کریم


# تاسي کولی لاندي کتابونه د ورکړ شوی لینکونو څخه ښکته ( ډانلوډ ) کړی

| شمیره | کتابونو نوملړ | د ښکته کولو تړونې |
|---|---|---|
| 1 | غیر مقلدینو اعتراضونه د هغوي جوابونه د احنافو دلایلو سره | https://bawar.net/download/index/1170 |
| 2 | مد لل لمونځ ( مولانا فیض احمد ملتانی) | https://bawar.net/download/index/1371 |
| 3 | دخالد بن ولید رضي الله عنه جهادي کارنامې | https://bawar.net/download/index/1567 |
| 4 | نبوي او سپیڅلي ویناوي | https://bawar.net/download/index/1592 |
| 5 | احقاق الحق څلور ټوک | https://bawar.net/download/index/1652 |
| 6 | زبدة التحقیق في الجهاد وتقلید | https://bawar.net/download/index/1677 |
| 7 | داسلام ستر اتل امام اعظم ابوحنیفه ( رح) | https://bawar.net/download/index/1685 |
| 8 | تفسیر معارف القران لس ټوکه | https://bawar.net/download/index/1847 |
| 9 | لس مشهوري ناروغی | https://bawar.net/download/index/1587 |
| 10 | د افغانستان تاریخ له راشده خلافته تر اسلامی امارته | https://bawar.net/download/index/1904 |
| 11 | د مذهب په جامه کي د استعمار مزدوران | https://bawar.net/download/index/1916 |
| 12 | علم النحو پښتو | https://bawar.net/download/index/1922 |
| 13 | دغیر مقلدینو دامام بخاري سره اختلاف | https://bawar.net/download/index/1978 |
| 14 | داسلامي معلوماتو ذخیره پښتو | https://bawar.net/download/index/1979 |
| 15 | دامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه حیرت انګیز واقعات | https://bawar.net/download/index/1980 |
| 16 | صفوة التفاسیر پښتو | https://bawar.net/download/index/2025 |
| 17 | احسن التعبیر في المسئلة الجبر وتقدیر | https://bawar.net/download/index/2034 |
| 18 | د همجنس بازي بربادی او دهغه علاج | https://bawar.net/download/index/2035 |
| 19 | تحقیقات حماسي | https://bawar.net/download/index/2036 |
| 20 | جوامع الکلم څلویښت احادیث مفتي محمد شفیع | https://bawar.net/download/index/2037 |
| 21 | المهند المفند عقاید اهل سنت والجماعت علماء دیوبند | https://bawar.net/download/index/2066 |
| 22 | انسان او شیطان( ناول) | https://bawar.net/download/index/2067 |
| 23 | اتلس ناولي قاتلین جنایي ( ناول ) | https://bawar.net/download/index/2068 |
| 24 | تشریحات نابغه | https://bawar.net/download/index/2073 |
| 25 | جنتي ښځه | https://bawar.net/download/index/2077 |
| 26 | د جنت اغزنه لار | https://bawar.net/download/index/2078 |
| 27 | دپیغمبر لمونځ احنافو ته ډالی | https://bawar.net/download/index/2084 |
| 28 | تجلیات فردیه پښتو | https://bawar.net/download/index/2085 |
| 29 | بدرالفتو | https://bawar.net/download/index/2086 |
| 30 | دقرباني مسایل احکام ، فضایل،او مسائل مدلل | https://bawar.net/download/index/2087 |
| 31 | دګونټنامو ماتي زولنې | https://bawar.net/download/index/2088 |
| 32 | فن الخطابه ( دوینا فن) | https://bawar.net/download/index/2089 |
| 33 | نشر الطیب في ذکر النبي الحبیب | https://bawar.net/download/index/2090 |
| 34 | اصول حدیث ( شهید شیخ الاسلام مولانا غلام حضرت الحنفی ) | https://bawar.net/download/index/2091 |
| 35 | تنبه الغافلین پښتو | https://bawar.net/download/index/2092 |
| 36 | وا مدني یاره نعتیه غورچاڼ | https://bawar.net/download/index/2093 |
| 37 | تفسیر ایوبی حنفي | https://bawar.net/download/index/2095 |
| 38 | په یو کلیمي سره د طلاقو واقع کیدل | https://bawar.net/download/index/2096 |
| 39 | ارشاد الطالبین دزادالطالبین شرح پښتو | https://bawar.net/download/index/2097 |
| 40 | البصایر پښتو | https://bawar.net/download/index/2101 |
| 41 | ۳۰۰ ذهني پوښتني او ځوابونه | https://bawar.net/download/index/2103 |
| 42 | جامع الوظایف | https://bawar.net/download/index/2104 |
| 43 | داحنافو دلایل | https://bawar.net/download/index/2106 |
| 44 | د کلیساه د پردو ترشاه پټ لاسونه | https://bawar.net/download/index/2107 |
| 45 | د دعوت فنون | https://bawar.net/download/index/2108 |
| 46 | د واده لومړی لس شپې | https://bawar.net/download/index/2117 |
| 47 | زادة الطالبین پښتو ترجمه | https://bawar.net/download/index/2118 |
| 48 | اصول التکفیر | https://bawar.net/download/index/2119 |
| 49 | د ماشومانو ښکلا | https://bawar.net/download/index/2120 |
| 50 | د مبایل فون شرعي احکام | https://bawar.net/download/index/2122 |
| 51 | د انجمن تقریرونه | https://bawar.net/download/index/2128 |

که د کوم کتاب په ډانلوډ کولو کي ستونزه لري مهرباني وکړي زمونږ سره آړیکه ټینګه کړی.


https://www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai WhatsApp:
0093706912702
https://T.me/Ezatullah_sultanzai











Design by: Mohammad Javed 0343-9029836

**خپرندویه ټولنه**

اسحاق زي مارکیټ، لاندیني پوړ

جلال اباد ښار افغانستان

۰۷۷۶۷۶۴۴۷۰

۰۷۹۴۰۰۴۰۲۹

روغانیوال

خپرندویه ټولنه